BOTKYRKA KOMMUN

PASHTO

# ستاسي لپاره چې د کډوالو لپاره سويډني ژبه زده کوئ (SFI)

SFI د سویډني ژبې یو لومړنی کورس دی. د SFI موخه دا ده چې تاسي وکولای شئ په ښه توګه سویډني ژبه زده کړئ ترڅو په ټولنه او دنده کې له تاسي سره مرسته وکړي. موخه دا هم ده ترڅو تاسي د SVA پراساس ياني په سویډني ژبه کې د دویمې ژبې په توګه په لومړنی کچه نوره زده کړه هم وکړئ. په SFI کې ستاسي د زده کړې په ترڅ کې، تاسي به دا موقع هم ولرئ ترڅو د زده کړې او مسلک له یوه مشوره ورکوونکي سره هم آشنا شئ. دا مشوره ورکوونکی به د راتلونکي لپاره د زده کړې او یوې دندې غوراوي لپاره له تاسي سره مرسته وکړي.

**په ټومبا کې د SFI ښوونځی**

کله چې تاسي د SFI لپاره نوم لیکنه کوئ، تاسي به د **ژبې له یوه ښوونکي سره به وګورئ**. د ژبې ښوونکی به ستاسي د تیرې تجربې په هکله پوښتنه وکړي او د ژبې یوه ساده آزموینه به واخلي. د ژبې ښوونکی به ستاسي لپاره د زده کړې لارې او هغه کورس ته چې تاسي باید ولاړ شی ارزونه وکړي.

**په سویډن کې SFI** د زده کړې درې لارې لري: 1، 2 او 3 او څلور کورسونه: A، B، C او D.

د زده کړې 1 لار د A له کورس سره پیلیږي، د زده کړې 2 لار د B له کورس سره پیلیږي او د د زده کړې 3 لار د B له کورس سره پیلیږي. له هر کورس وروسته، له تاسي به آزموینه واخیستل شي او تاسي ته به درجه درکړ شي. په نوي کورس کې د زده کړې پیل لپاره، تاسي باید له تیر کورس څخه یوه درجه ولرئ. مونږ د SFI کورسونه د ورځې، ماښام، شنبې او د انټرنټ له لارې وړاندې کوو.

د SFI د B او C کورسونه له **لومړني کورس** سره پنځه اونۍ وخت نیسي. پدې کورس کې به تاسي له سویډني ژبې سره آشنا شئ. تاسي ته به د ښوونځي او د SFI د بیلابیلو کورسونو په هکله هم مالومات درکړ شي. له ښوونکي سره یوځای، تاسي به یوځای د **زده کړو یو انفرادي پلان** جوړ کړئ، دا چې ستاسي پلان به څرنګه وي.

په **C کورس کې** به تاسي دا موقع هم ولرئ ترڅو د SFI زده کړي له **مسلکي زده کړي** سره یوځای کړئ. که تاسي لیوالتیا لرئ ترڅو پدې یوه شئ چې په ټومبا کې کوم مسلکي کورسونه وړاندې کیږي، تاسي کولای شئ ترڅو له خپل ښوونکي یا په ښوونځي کې د مالوماتو له برخې سره خبرې وکړئ. د مالوماتو برخه په 3 پوړ کې ده. P

په SFI کې، د بیلابیلو مذهبونو، کلتورونو، جنسیتي لیوالتیاو او تیرو تجرو ښځینه او نارینه ګډون کوي. مونږ د یوه بل احترام کوو او یوه بل ته پام کوو.

## یوه نوې ژبه زده کول

د تومبا په SFI کې، تاسي به د ښوونځي دننه او دباندې په ورو او لویو ډلو کې زده کړه وکړئ؛ ځینې وختونه به تاسي پخپله کار کوئ، او ځینې وختونه به له نورو سره یوځای کار کوئ.

په SFI کې، مونږ په ټولګي کې په سویډني ژبه خبرې کوو. هرڅومره چې کولای شی په سویډني ژبه خبرې وکړئ.

په SFI کې، ښوونکي له بیلابیلو توکو کار اخلي. کیدای شي د SFI زده کړې لپاره بیلابیل توکي شتون ولري، خو له ورځپاڼو، ټولنیزو رسنیو، د ژبو له پروګرامونو، بلاګونو، آیپادونو او کمپیوټرونو څخه به هم کار واخیستل شي.

په SFI کې، مونږ د ګوګل له ټولګي څخه کار اخلو، دا د ډیجیټلي زده کړې یو ښه ځای دی. تاسي ته به د کورس په پیل کې د داخلیدو جزییات لاسته راوړئ.

### تاسي د خپلې زده کړې مسؤلیت لرئ

دا مهمه ده ترڅو **په وخت راشی** او په لوستونو کې په فعاله توګه ګډون وکړئ. دا هم مهمه ده ترڅو تاسي خپله کورنی دنده وکړئ او هغه څه چې مو زده کړي هغه بیرته تکرار کړئ.

که تاسي کومه ورځ ناروغه یاست او نشئ کولای برخه واخلئ، د لوست له لاسه ورکولو لپاره **خپله مسؤلیت لرئ**. که تاسي نشئ کولای برخه واخلی، تل خپل ښوونکي ته خبر ورکړئ. که تاسي په SFI کې د برخې اخیستلو لپاره کومه ستونزه لرئ، تاسي او ستاسي ښوونکی کولای شي ترڅو یوځای د زده کړې لپاره کومه بله ښه لار پیدا کړئ.

### تاسي په خپل سرعت سره زده کړه کوئ

مونږ په هرو پنځو میاشتو کې نوي زده کوونکي نیسو. څکه نو، زمونږ زده کوونکي په بیلابیلو نیټو زده کړه پیلوي او پای ته رسوي. یووازې د موخو له لاسته راوړلو وروسته به تاسي یو کورس پای ته ورسوی. زده کړه د بیلابیلو خلکو لپاره بیلابیل وختونه نیسي. ښوونځی د هر زده کوونکي لپاره د ډیر وخت یو حد ټاکلی او دا وخت پدې پورې اړه لري چې د زده کړې کومه لار پورې تاسي اړه لرئ. که ښوونکی دا وګڼي چې تاسي نشئ کولای په ټاکلي وخت سره کورس بشپړ کړی، پدې هکله به ګامونه ترسره شي.

د کورس په پای کې تاسي به یوه ملي آزموینه (Nationellt prov, NP) ترسره کړئ، دا چې کله تاسي د دې آزموینې لپاره چمتو یاست، دا پریکړه به ستاسي ښوونکی وکړي. کله چې ستاسي کورس پای ته ورسیږي، تاسي ته به یوه درجه درکړ شي.

دا مهمه ده ترڅو تاسي پدې پوه شی چې د نوي ژبې زده کړه وخت ته اړتیا لري.

**په یاد ولرئ:**

- تاسي نباید خپل کوچنیان ښوونځي ته راوړئ.
- که تاسي په SFI کې نیاست، ستاسي غیرحاضري به ثبت شي. تاسي نشئ کولای له 21 ورځو څخه زیات غیرحاضر شئ. که تاسي ناروغه یاست یا رخصت یاست تل ښوونځي ته رپوټ ورکړئ.
- په SFI کې نقل کول په سخته توګه منع دي.
- د حساسیت له کبله، تاسي نباید په ښوونځي کې له زیاتو عطرو کار واخلئ.
- تاسي یووازې کولای شئ له ښوونځي دباندې په ښه شوي ځایونه کې سګرټ وڅکوئ.
- که د اور خطر زنګ پیل شي، تاسي باید په چټکه توګه د نږدې بیروني وتلو له لارې ووځئ او له SFI دباندې لوی پارکینګ ته ولاړ شئ. تول خپل شیان پریږدئ.

**د بوتکیرکا په ښاروالی کې د بالغو کسانو زده کړې (Vuxenutbildningen)**
**لپاره SFI ته ښه راغلاست!**